# آریانا

## (لرغونی افغانستان)




لیکوال:
عبدالرحمن پژواک

ژباړن:
محمد جواد تیموري


آریانا (لرغونی افغانستان)


ژباړن: محمد جواد تیموري


# Aryana

## (Ancient Afghanistan)


Written by: Abdul Rahman Pajhwak
Translated by: Mohammad Jawad Temori



2023

ISBN 978-9936-661-53-0

د افغانستان د علومو اکاډمي
د اسلامي علومو معاونیت
د ژباړې مرکز

# آریانا (لرغونی افغانستان)

لیکوال: عبدالرحمن پژواک
ژباړن: محمد جواد تیموري

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** آریانا (لرغونی افغانستان)

**لیکوال:** عبدالرحمن پژواک

**ژباړن:** محمد جواد تیموري

**ایډیټ، اهتمام او تعلیقات:** څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**چاپ کال:** ۱٤۰۱ل / ۱۴۴۴ هـ ق

**دچاپ ځای:** لایف سټار مطبعه، کابل- افغانستان

ISBN : ۰ – ۵۳- ٦٦١- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


د اطلاعاتو او عامه اړیکو محترم ریاست ته! ........................................أ
د عبدالرحمان پژواک پېژندنه ........................................ج
د ژباړن خبرې ........................................م
د لیکوال سریزه........................................س
آریانا ........................................١
(لرغونی افغانستان)........................................١
ویدونه ........................................١٣
زردشت ........................................١٩
اوستا........................................٢١
لوی سکندر ........................................٢٣
موریان ........................................٢٦
یوناني- باختریان ........................................٢٩
پارتیان........................................٣٢
اسکاس........................................٣٢
پهلویان ........................................٣٣
کوشانیان........................................٣٤
یفتلیان ........................................٤٣
توکیوس ........................................٤٥
رتبیل شاهان........................................٤٥
برهمنشاهیان ........................................٤٧
اسلامي دوره ........................................٤٨
ابومسلم خراساني ........................................٥١
طاهري لړۍ........................................٥٣
صفاري لړۍ........................................٥٤
د بلخ سامانیان ........................................٥٦

غزنویان ........................................................................ ٥٦
سلجوقیان ...................................................................... ٥٨
غوریان ......................................................................... ٦٠
د خوارزم شاه لړۍ ........................................................... ٦٢
د مغولو یرغل ................................................................... ٦٣
د هرات کرتان .................................................................. ٦٥
تیمور گورکان .................................................................. ٦٥
د مغولو امپراتوري .......................................................... ٦٦
شیباني لړۍ ...................................................................... ٦٧
د فارس صفویان ............................................................... ٦٨
بابر .............................................................................. ٦٩
هوتکیان ........................................................................ ٧٠
نادرشاه افشار ................................................................. ٧٣
ابدالیان ......................................................................... ٧٣
افغانستان او اسلام .......................................................... ٨٠
نوی افغانستان ................................................................ ٩٣
موسیقي ....................................................................... ١٢٢
سپورت او فزیکي فرهنگ .................................................. ١٢٥
زده کړې او ښوونیز نظام ................................................... ١٢٦
روغتیايي سیستم ............................................................. ١٣٠
کرنه او مالداري .............................................................. ١٣٢
تعلیقات ........................................................................ ١٤٣
پاراداتا (بلخي پېشدادیان) .................................................. ١٤٣

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو محترم ریاست ته!

محترمـا! د ښـاغلي محمـد جـواد تیمـوري ژبـاړلی اثـر «آریانـا؛ لرغـونی افغانستان» چې د نشراتي کمېسیون د ۱۴۰۱/۱۰/۳ نېټې د پرېکړې پر بنسټ د وروستۍ سمونې او ارزونې لپاره را استولی و، په ژوره توګه مې مطالعه کړ، پـر اړینــې اصـلاح او ســمونې سربېـره مــې د کتـاب د لیکـوال، شـاعر او نومیـالي ډیپلومات خـدای بښـلي پـژواک صـاحب لنـډ ژونـد لیـک او د کتـاب یـو شـمېر موضوعاتو د لا زیاتو توضیحاتو او روښانولو په موخه تعلیقات ولیکل.

د مرحوم پـژواک د «آریانـا؛ لرغـونی افغانسـتان» اثـر یـو علمـي، څېړنیـز او تحلیلي تاریخي اثر دی او آن د افغانستان د تاریخ لیکنې په اړه یې د مورخینـو نیمګړتیاوې، ناسم تعبیرونه او لیکنې په ګوته کـړې او دغـه څـه د لیکـوال لـوی علمــي خلاقیـت او وړتیـا پـه ګوتـه کـوي. بــې لـه شـکه عبـدالرحمن پـژواک د افغانستان په معاصر تاریخ کې یو نومیالی پوهاند، ادیب، لیکوال، ډیپلومات، د ملګرو ملتونو په سازمان کې نفـوذ لرونکـی اسـتازی تېـر شـوی، مـلي او نړیـوال شخصیت و. ده د خپل ژوند پـه اوږدو کـې نـه یـوازې د افغانسـتان، سـیاسي او ډیپلوماتیکي چارې سمبال او رهبري کړې، بلکې څـه بانـدې پنځـوس علمــي، تاریخي او ادبي آثار یې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو لیکلي دي، چې دغه اثر «آریانا؛ لرغونی افغانستان» یې یو له هغو علمي او تاریخي آثارو څخه دی، چـې په انګلیسي ژبه یې لیکلی دی. د دغـه اثـر منځپانګـه د افغانسـتان د لرغـونې، منځنۍ او معاصرې دورې لنډ تاریخ دی، چې پر نورو علمي او تـاریخي اهـدافو سربېـره، یـو هـدف یــې دا دی چــې بهرنیـان د افغانسـتان لـه تـاریخ، مـدنیت،

فرهنګ سره په سمه توګه آشنا کړي او د ځينو افغان دښمنو مورخينو خطاوو ته ځواب ووايي.

د دې لپاره چې دغه علمي اثر «آريانا؛ لرغونی افغانستان» زموږ د تاريخ مينه‌وال او ګران هېوادوال په خپله ملي ژبه ولولي او ګټه ترې واخلي، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژباړې محترم رياست په روان کال کې د دغه مرکز علمي غړي ښاغلي محمد جواد تيموري ته په رسمي توګه دنده وسپارله چې نوموړی اثر له انګرېزي ژبې څخه پښتو ژبې ته وژباړي. د لوی خدای تعالی شکر ادا کوو چې تيموري صاحب دغه اثر په ډېره روانه او ادبي پښتو ژبه باندې ژباړلی دی، له اړينې اصلاح او سمونې وروسته دا دی اوس د چاپ لپاره چمتو دی او د دې ليک په ملتيا يې د وروستيو اجرااتو لپاره ستاسو محترم مقام ته ببرته در واستول شو.

په درنښت

څېړنپوه دوکتور محمد شريف ځدراڼ